## په ستونزمنو حالاتو کې ګاډی چلول

- په اکمالاتو ښه پوره د موټر د ژمي بیړنی کیټ (لاندې) ولرئ.
- خپل د ګاز ټانک لږ تر لږه نیم ډک ساتئ.
- د ژمي دپاره ښه ټیرونه ولګوئ چې مناسب رفتار او فشار ولري.
- د کنګل او واورو لیرې کولو دپاره د مخکینۍ ښیښې موښونکی او وړه جاروګی وساتئ. ټولې ښیښې، وروستني څراخونه، مخکیني څراخونه د واورو او کنګل څخه پاک ساتئ.
- خپل اینټي فریز، بیټرۍ، د مخکینۍ ښیښي موښونکي او د موښونکي د مایعاتو کتنه کوئ.
- د چکرو پلان په ډېر پام سره جوړوئ، تر ټولو وروستني مالوماتو دپاره د هوا اټکلونه ګورئ او د سفر په وخت کې د تازه مالوماتو دپاره راډیو اورئ.
- نورو ته د خپل مهالویش او لومړي او متبادلو لارو په اړه خبرتیا ورکړئ. خپل منزل ته د رسېدو دپاره اضافي وخت ولرئ.
- ورو شئ، د تور کنګل په خیر خطرونه تر هغه نه لیدل کېږي چې ډېر ناوخته نه وي. په یاد ولرئ چې پلونه او اوورپاسونه د سړکونو په پرتله ژر کنګل کېږي.
- ډېر زیات ویښ اوسئ. د واورو توپان او د واورو ډېري کولی شي ماشومان او نور ګاډي پټ کړي.
- واورې پاکوونکو ته ډېر ځای ورکوئ چې خپل کار په خوندي توګه ترسره کړي. زغم کوئ او وروستو پر خوندي واټن سفر کوئ.
- که تاسو د واورو په توپان کې د سړک څخه لیرې لاړ شئ
  - نو په خپل ګاډي کې اوسئ چیرته چې ډېر احتمال دا دی ژغورونکي تاسو ومومي. خپل انجن بند کړئ او که چیرې په خوندي توګه کولی شئ خپل د لوګي وتلو نل د واورو او نورو خنډانو څخه پاک کړئ.
  - د تودوخي ساتلو دپاره په هر ساعت کې شاوخوا تر 10 دقیقو پورې انجن او هیټر چلوئ. کله چې انجن چلېږي نو د تازه هوا دپاره په ښیښه کې لږ شان چوند پرېږدئ. د لوګي وتلو نل وخت په وخت له واورو پاکوئ.
  - د اوبو د کمښت د مخنیوي دپاره اوبه څښئ.
  - پام کوئ چې د بیټرۍ بریښنا له لاسه ورنکړئ. د بریښنایي انرژۍ اړتیاوې انډول کړئ: د رڼا، تودوخې، او راډیو کارونه.
  - وروستي تر دې چې د واورې د اورښت ودرېږي، خپل هوډ پورته کړئ ترڅو وښیئ چې تاسو مرستې ته اړتیا لرئ.

## <u>د موټر ایمرجنسي کیټ:</u>

- څراخ چې اضافي بیټریاني ولري
- چارج شوی سیل فون/ د ګاډو چارجر
- د طبي مرستي اساسي کیټ
- وړوکی چاکو
- کمبلي یا د ویده کېدو بېګونه

- اضافي جامې (د باراني کالیو، بوټانو، دستکلو، جرابو په ګډون)
- د زیاتې کالرۍ، نه خرابېدونکي خواړه (وچې کړې مېوې، غوزې، په ډبي کې بند خواړه)
- د مخکینۍ ښیښې موښونکی او برش
- اور وژونکی
- بېلچه
- د اساسي اوزارو کیټ (پلاس، رېنچ، پېچکش)
- د راکاږلو رسۍ
- د بیټرۍ د جمپر کېبلې
- سړک اورونه/ انعکاس کوونکي
- پړقېدونکي رنګ ټوکر چې د بېرغ په توګه وکارول شي
- سړکي نخشې